آغاز نو - نوی پیل
Afghanistan's New Beginnings Programme

**د جاپان هیواد د ناقانونه وسلوالو ډلو دمنحلولو پروګرام سره څه دي پاسه 4 میلیونه امریکایی دالره مرسته کوي**

کابل، د غبرګولی 29، 1387 کال- د جاپان سفارت سرپرست او معاون ښاغلي کتسوهاید اریوشي او د UNDP سرپرست او معاون ښاغلي ایان هولند نن تر غرمي مخکی په هغه غونډه کي چي د جاپان هیواد له لوري د افغانستان نوی پیل پروګرام (ANBP) د ناقانونه واسلوالو ډلو د انحلال پروګرام (ډیاګ) سره د477 میلیونه جاپاني ین (4.5 میلیونه ډالر) د مرستي اسناد یی لاسلیک کول ګډون وکړ.

ددی مرستي څخه چی د چهارشنبه په ورځ د جاپان لوري وشوه د ناقانونه وسلوالو ډلو د منحلولو لپاره او همدارنګه په هغو ولسوالیو کي چي د ډیاګ پروګرام ته خپلی وسلي ورکړي د پرمختیایي پروژو باندي ولګول شي.



دا د جاپان دوهمه مرسته ده چي د ANBP د ډیاګ پروګرام سره یی کوي چي په دی توګه د جاپان هیواد مرسته تر 10 میلیونو ډالرو څخه زیات اټکل کیږي. د خلع سلاح، ملکی کولو او بیا میشته کوولو (دی. دی. آر) پروګرام څخه وروسته، د جاپان هیواد د ډیاګ اول درجه مرسته کوونکو څخه دئ . نور مرسته کوونکي چي د ډیاګ پروګرام سره مرسته کوي عبارت دی له، انګلستان، کانادا، سوزرلند، دنمارک، ایتالیا، نیدرلند، ناروي او امریکا.

د UNDP نوري پروژي لکه د سیمیز ملی پرمختیایي پروګرام (۱۵میلیونه ډالر) او Law and Order Trust Fund (تر ۲۰ میلیونه ډالر څخه زیات) سره هم د جاپان هیواد لخواه مرستي شوي ده.

د ډیاګ پروګرام موخه د ناقانونه واسلوالو ډلو خلع سلاح کولو او منحلولو او د وسلوالي ناخوالو د کمولو له لاري په هیواد کي د امنیت راوستلو لپاره د افغانستان جمهوري دولت څخه ملاتړ دئ. همدارنګه دا پروګرام هڅه کوي تر څو دولت په دي وتوانیږي چي موجود ټولنیز او اقتصادی پروګرامونه پرمخ بوزي، ثبات ټینګ کړي، او د امنیتی سکتور د ریفورم مهمي برخی لکه د دولت اداري ته وده او د قانون حاکمیت لپاره متی ور ونغاړي.

د افغانستان نوی پیل پروګرام (ANBP) په 1382 لړدیز لمریز (2003 میلادی) کال کي، د UNDP په چوکات کی، جوړ او د افغانستان اسلامی جمهوریت سره یی د افغانستان مسلح قواؤ خلع سلاح، ملکی کولو او بیا میشته کولو کي، چی د جاپان هیواد د ۹۱ میلیونو ډلرو په مرسته ددی پروګرام په سر کی ولاړ وه، مرسته کړي ده. د (دی. دی. آر) پروګرام څخه وروسته، د ناقانونه واسلوالو ډلو دمنحلولو (ډیاګ) پروګرام له لاري یی زیات شمیر د وسلو اومهماتو انبارونه له منځه وړي دي.

---

**د رسانیو سره اړیکی**

| | | |
|---|---|---|
| جاپان سفارت | UNDP | ANBP |
| کیوکو اوکانو | فضه حسینی | ننګیالی تنی |
| ارتشه | د رسانیو اوعامه اړیکو مسووله | د عامه اړیکو مرستیال |
| +93 (0) 700 258 721 | + 93 (0) 700 475 714 | + 93 (0) 700 239 850 |
| kyoko.okano@mofa.go.jp | fezeh.hosseini@undp.org | ntanai@anbpafg.org |

---

**د ډیاګ په هکله:**
کله چی جلالتماب ښاغلي خلیلی، د ولسمشر دویم مرستیال، د ډیاګ پروګرام اعلان کړ، نوموړی پروګرام د 2005 میلادی کال د جون په 11 نیټه په رسمي توګه پیل شو. د ډیاګ پروګرام چاري د خلع سلاح او بیا میشته کولو کمسیون له خواه او د مشترک دارلانشا په مرسته چي په ترکیب کي یی دولتی مقامونه، UNDP/ANBP، او نور نهادونه شامل دي پر مخ بیول کیږي. تر اوسه پوري په افغانستان کي 687،39 میله وسلي، په شمول د 418،29 فیر سر بنده او 141،361 فیر سر خلاصي مهمات د افغانستان نوي پیل د پروګرام د وسلو ټولو ټیمونو ته سپارل شوي او ددوی لخواه تفکیک شوي دي. د ډیاګ پروګرم په نتیجه کي، 326 ناقانونه وسلوالي ډلي منحل شوي او 33 ولسوالیو د ډیاګ پروګرام ته خپلي وسلي په سپارلو ددي پروګرام سره یو ځای شول.